بسم الله الرحمن الرحيم

## د مسلمانانو حکامو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا

## (ژباړه)

له عایشې صدیقې رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«اللهُمَّ، مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ، فَاشْقُقْ عَلَيْهِ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ، فَارْفُقْ بِهِ»** (رواه مسلم)

*__ژباړه__: یا الله! کله چې څوک زما د امت د کوم کار سرپرستۍ پر غاړه واخلي او له هغوی سره سخت چلند وکړي، له هغوی سره سخت چلند وکړه او کله چې څوک زما د امت د کوم کار سرپرستۍ پر غاړه واخلي او له هغوی سره له نرمۍ کار واخلي، نرم چلند ورسره وکړه.*

**د حدیث مانا:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو واکمنانو او اولیاوو په حق کې د خیر دعا کړې چې له مسلمانانو سره نرم او پرې مهربانه دي. همدارنګه هغوی ته یې ښیرا کړې، چې له مسلمانانو سره نرم چلند نه کوي. نو د حدیث الفاظ عام ذکر شوي، چې د یوې کورنۍ سرپرستي سړي ته، ښځې ته د کور او بچیانو په چارو، مدیر ته په مکتب یا مدرسه، معلم ته پر شاګردانو او حاکم ته د رعیت سرپرستي ورتر غاړې ده. نو د دغه حدیث پر اساس پر هر مسلمان لازمه ده، چې د سرپرستۍ په امر کې دغه حدیث خپله هینداره وګرځوي، څو د هغو کسانو په حق کې ظلم ونه کړي، چې تر لاس یې لاندې دي.

**نو ای مسلمانانو!**

تاسو اوسمهال د هغو طاغوتي حکامو پر وړاندې ابتلا کېږئ، چې درباندې مسلط دي؛ هغه حکام چې د امت له خوښې او واک پرته پر هغوی واکمن شوي او په غوسه او جبر پر هغوی حکمراني کوي. همدارنګه ډول ډول شکنجې ورکوي او د امت تر منځ د نفاق په خاطر له بېلا بېلو وسایلو ګټه اخلي، د هغوی شتمنۍ او کړنې ښاري ان د کورونو په له منځه وړلو یې هم سرپه نه کوي. نو دا ټول د اسلامي خلافت له سکوت وروسته د ښکېلاکګرو

کفارو په وسیله د دا ډول حکامو د واک ته رسیدو له امله دي. د هر مسلمان مسوولیت دی، چې یوبل ته لاسونه ورکړي او د دغو مزدورو طاغوتي حکامو د له مخې لرې کولو لپاره هڅه وکړي او په مقابل کې یې د اسلامي شریعت د معیارونو پر بنسټ واقعي حاکم وټاکي، څو د الله تعالی احکام پر ټولو انسانانو پلي او عدالت او انصاف رامنځته کړي.

**د حدیث لنډیز:**

په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیک حاکم په حق کې د خیر او بد حاکم په حق کې د شر دعا کړې ده. نو د چارو حاکمان باید له الله سبحانه وتعالی وېره او حیا ولري او د اسلامي امت په حق کې دومره ظلم او زیاتی ونه کړي، چې د قیامت په ورځ د الله سبحانه وتعالي پر وړاندې شرمېدلي وي.

**۱۴۴۲هـ.ق، د جمادی الثاني ۲۶مه**

**۲۰۲۱م، د فبروري ۸مه**